## لوګر پوهنتون

## ښوونې او روزنې پوهنځی

## انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه



# د محصل لارښود کتاب

ترتیب کوونکی: انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه، استاد نوماند پوهنیار حامد شینواری

کال: ۱۴۰۴ هـ. ش مطابق ۱۴۴۶ – ۱۴۴۷ هـ. ق

# فهرست


1. د څانګې د آمر پیغام
2. لومړی فصل
3. عمومي معلومات
4. ۱.۱ د لوګر پوهنتون پېژندنه
5. ۱.۲ د ښوونې او روزنې پوهنځي پېژندنه
6. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې پیژندنه
7. دوهم فصل
8. عمومي اصول او مقررات
9. ۲.۱ د پوهنتون اصول او ارزښتونه
10. ۲.۲ د محصلینو حقوق
11. ۲.۳ د محصلینو مسؤلیتونه
12. ۲.۴ د ټولګي اصول
13. ۲.۵ د ازموینو مقررات
14. ۲.٦ انضباطي اصول
15. درېیم فصل
16. د کریډیټ سیستم
17. ۳.۱ د کریډیټ سیستم پېژندنه
18. ۳.۲ د کریډیټ سیستم مقررات
19. ۳.۳ د ارزونې سیستم
20. ۳.۴ د نمرو وېش
21. ۳.۵ د ازموینو ډولونه
22. څلورم فصل
23. د محصلانو خدمتونه او اسانتیاوې
24. ۴.۱ کتابتون
25. ۴.۲ انټرنېټي خدمتونه
26. ۴.۳ علمي سفرونه
27. ۴.۴ سیمینارونه او ورکشاپونه
28. ۴.۵ د ژبې لابراتوار
29. پنځم فصل
30. څېړنه او علمي لیکنه

31. ۵.۱ د علمي څېړنې پېژندنه
32. ۵.۲ د مونوگراف ليکل
33. ۵.۳ د ماخذونو ليکلو اصول
34. ۵.۴ د علمي امانتدارۍ اصول
35. ۵.۵ د ادبي غلا (Plagiarism) مخنيوی
36. شپږم فصل
37. له فراغت وروسته اړيکې
38. ٦.۱ د فراغت شرايط
39. ٦.۲ د فراغت اسناد
40. ٦.۳ د فارغانو ټولنه
41. ٦.۴ د کار فرصتونه
42. ٦.۵ لوړې زده کړې
43. اووم فصل
44. انگليسي ژبې او ادبياتو څانگې نصاب

# د څانګې د آمر پیغام

**ګرانو محصلانو!**

په ډېرې خوښۍ سره تاسو ته د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې ته ښه راغلاست وایم. ستاسو د لوړو زده کړو د دې مهم پړاو پیل د علم، پوهې، شخصیت جوړونې او مسلکي پرمختګ د یوې نوې مرحلې پیل دی.

زموږ د څانګې موخه یوازې د انګلیسي ژبې تدریس نه دی، بلکې هڅه کوو داسې وړ، ژمن او مسلکي فارغان وروزو چې د هېواد د ښوونې او روزنې، څېړنې، ژباړې او نورو علمي او مسلکي برخو اړتیاوو ته اغېزمن ځواب ووایي. په همدې موخه، د څانګې علمي کادر ژمن دی چې د معیاري تدریس، علمي څېړنې، نوښت او عملي زده کړو له لارې ستاسو علمي او مسلکي وړتیاوې لا پیاوړې کړي.

دا لارښود کتاب ستاسو لپاره د یوې باوري سرچینې په توګه ترتیب شوی دی، څو د پوهنتون، پوهنځي او څانګې د اصولو، مقرراتو، علمي خدمتونو، نصاب او نورو مهمو موضوعاتو په اړه اړین معلومات ترلاسه کړئ. هیله ده چې د دې کتاب له لارښوونو څخه په سمه توګه ګټه واخلئ او د خپلې زده کړې په بهیر کې یې د لارښود په توګه وکاروئ.

له تاسو څخه تمه کېږي چې د پوهنتون اصول او مقررات مراعات کړئ، خپلو علمي او اخلاقي مسؤلیتونو ته ژمن واوسئ، د استادانو او خپلو ټولګیوالو درناوی وکړئ، د علمي امانتدارۍ اصول په پام کې ونیسئ او د څېړنې، نوښت او دوامدارې زده کړې روحیه پیاوړې کړئ.

بریالی محصل هغه دی چې یوازې د نمرو ترلاسه کولو ته بسنه ونه کړي، بلکې د پوهې د لاسته راوړلو، مسلکي مهارتونو او ټولنیز مسؤلیت د ودې لپاره دوامداره هڅه وکړي. موږ باور لرو چې ستاسو هڅې، زحمت او ژمنتیا به تاسو د علم، خدمت او رهبرۍ لوړو پوړونو ته ورسوي.

په پای کې، تاسو ټولو ته د بریالۍ علمي راتلونکې، روغتیا او دوامداره پرمختګ هیله کوم او ډاډ درکوم چې د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه به تل ستاسو د علمي ودې او مسلکي پرمختګ لپاره خپلې هڅې جاري وساتي.

په درنښت

پوهنیار رفیع الله سعید
د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې آمر
د ښوونې او روزنې پوهنځی – لوګر پوهنتون

**لوګر پوهنتون**

**د ښوونې او روزنې پوهنځی**

**د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه**

**د محصل لارښود کتاب**

## لومړی فصل

## عمومي معلومات

### ۱.۱ د لوګر پوهنتون پېژندنه

لوګر پوهنتون د افغانستان له مهمو امارتي د لوړو زده کړو بنسټونو څخه دی چې د هېواد د علمي، فرهنګي او ټولنیز پرمختګ لپاره د مسلکي او وړ بشري ځواک د روزنې په موخه فعالیت کوي. پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د تدریس او څېړنې خدمتونو چارې پر مخ وړي.

لوګر پوهنتون هڅه کوي چې د کیفیت لرونکو زده کړو، علمي څېړنو، نوښت، تخلیق او ټولنې ته د خدمت له لارې داسې فارغان وروزي چې د هېواد د پرمختګ، اقتصادي ودې او ټولنیز ثبات په برخه کې اغېزناک رول ولوبوي.

دغه پوهنتون په بېلابېلو پوهنځیو او علمي څانګو کې د لېسانس پروګرامونه وړاندې کوي او د علمي ظرفیتونو د لوړولو لپاره د څېړنیزو فعالیتونو، علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او روزنیزو پروګرامونو ملاتړ کوي.

د لوګر پوهنتون د زده کړو چاپېریال د اکاډمیکو ارزښتونو، مسلکي اخلاقو، متقابل درناوي، شفافیت او مسؤلیت منلو پر بنسټ ولاړ دی. پوهنتون د خپلو محصلینو لپاره هڅه کوي چې داسې مناسب چاپېریال برابر کړي، څو هغوی وکولای شي خپل علمي، مسلکي او شخصي وړتیاوې په اغېزمن ډول وده ورکړي.

**د لوګر پوهنتون په اړه لنډ معلومات**

| موضوع | معلومات |
|---|---|
| د پوهنتون نوم | لوګر پوهنتون |
| د تاسیس کال | ۱۳۹۳ هـ . ش |
| موقیعیت | پل علم، لوګر، افغانستان |
| د پوهنځیو شمېر | ٦ شپږ |
| د څانګو شمیر | ۱۷ اوولس |
| رسمي وېبپاڼه | *https://logu.edu.af* |
| برېښنالیک | logaruniversity@logu.edu.af |

**۱.۲ د ښوونې او روزنې پوهنځي پېژندنه**

د لوړو زده کړو وزارت د درنو مقاماتو د (۵۷۵) ګڼې ۱۳۹۲/۱۲/۱۳ نېټې وړاندیز او د تېرې د (۱۲۰۰) ګڼې ۱۳۹۳/۰۲/۲۰ نېټې حکم پر بنسټ، د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د (ریاضي ـ فزیک) او (کېمیا ـ بیولوژي) په نوم له دوو ډیپارټمنټونو سره خپل علمي او اکاډمیک فعالیتونه پیل کړل. نوموړي پوهنځي د خپلې پیلیزې دورې په اوږدو کې د دوو کلونو لپاره د یادو څانګو له لارې د تدریس چارې پر مخ یوړې. وروسته د تقنین او مؤسساتي انکشاف آمریت د (۱۱۴) ګڼې ۱۳۹۴/۴/۹ نېټې مکتوب او د علمي بورډ د ۱۳۹۸/۴/۸ نېټې پرېکړې پر اساس، دغه دوه ډیپارټمنټونه په څلورو جلا څانګو ـ (ریاضي، فزیک، کېمیا او بیولوژي) ـ وویشل شول. په دوام کې، د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورا د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۵/۱۵ نېټې د (۱۷) بند د تصویب له مخې، د (اسلامي ثقافت) او (انګلیسي ژبې او ادبیاتو) دوه غیر فارغ ورکوونکي څانګې د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شوې. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۶) ګڼې ۱۳۹۸/۶/۱۴ نېټې مکتوب پر اساس، د بیولوژي او ریاضي څانګو لپاره د شپې برنامې هم په همدې پوهنځي کې پیل شوې او د محصلینو پر وړاندې یې خپلې دروازې پرانیستې.

د وروستیو پرمختګونو په لوړو زده کړو وزارت عالي شورا د (۱۰۶۹/۲۶۲۲) ګڼې د ۱۴۰۲/۲/۲ نېټې د (۸) بند د تصویب پر اساس، د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تأسیس شوه. همدارنګه، د اسلامي ثقافت غیر فارغ ورکوونکې څانګه د فارغ ورکوونکې څانګې په کچه ارتقا ومونده او د (اسلامي علومو او فرهنګ) تر عنوان لاندې تأیید شوه.

اوس مهال د ښوونې او روزنې پوهنځی د اووه (۷) فارغ ورکوونکو څانګو لرونکی دی چې په کې د تجربې، علمي وړتیا او مسلکي پوهې څښتن استادان د محصلینو د روزنې، علمي څېړنو او اداري چارو مسؤلیت په اغېزمنه توګه پر مخ وړي. تر دې دمه دغه پوهنځی په (۸) دورو کې د هیواد د علمي او مسلکي خدمتونو ډګر ته د سلګونو فارغینو د وړاندې کولو ویاړ لري، کوم چې د ښوونې او روزنې په برخه کې د ټولنې د بنسټیز پرمختګ لپاره ارزښتناک رول لوبوي. د پوهنځي رهبري په ژمنتیا سره هڅه کوي چې محصلین د اسلامي فکر او ملي روحیې په رڼا کې وروزي او هغوی د نظام، هېواد او ټولنې د خدمت لپاره د متخصصو او مسلکي کدرونو په توګه وړاندې کړي.

## د پوهنځي لرليد

ښــوونــې او روزنــې پوهنځی هڅه کوي چې د ټولنــې اړتیاوو او د کار بازار ته په کتو، د ځېړنو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کــې د هـیواد په کچه د یو با اعتباره او مخکښ اکاډمیک بنسټ په توګه ځانګــړی مـقـام خپل کړي.

## د پوهنځي رسالت

ښــوونــې او روزنــې پوهــنځی په لازمــو مهـارتونو، عصــري میتودونو، ښوونیزه ټکنالوژۍ، اسلامــي او ملــي روحیې سمبال مسلکــي، ژمن او مبتکــر ښوونکــو روزل او ستونزو ته علمــي حل لارو لټولو په موخـه د څېړنو ترسره کـول خپل مـامـوریت ګـڼي.

## د پوهنځي ارزښتونه

- ✓ اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی او ژمنتیا.
- ✓ د هیواد نافذه قوانینو، احکامو،فرامینو او لوایحو ته درناوی.
- ✓ صداقت، عدالت او تعهد.
- ✓ کاري ژمنتیا او پر مسلکیتوب باور.
- ✓ چارو کې کیفیت ته ځانګړې پام لرنه.
- ✓ شفافیت و حساب ورکونه.
- ✓ د مسئولیت احساس.
- ✓ خلاقیت او نوښت.
- ✓ د فساد او تعصب پر وړاندې مبارزه.
- ✓ د مشارکت اصل ته په کتلو سالم رقابت کول.

## د پوهنځي اړوند معلومات

| موضوع | معلومات |
|---|---|
| د پوهنځي نوم | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| د تاسیس کال | ۱۳۹۳ هــ . ش |
| رئیس | پوهنمل ابراهیم نوري |
| څانګې | ۷ اووه |

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې پیژندنه

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورى د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۰۸/۱۵ نېټې (۱۷) بند تصویب پر بنسټ د یو غیر فارغ ورکوونکي څانګې په حیث د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې داخل شو؛ او له ۱۴۰۰/۰۲/۱۵ نیټې څخه وروسته یې په فعالیتونو پیل وکړ، او په ۱۴۰۳ هـ. ش کال لومړۍ دوره محصلین جذب کړل، چې اوسمهال پنځه تنه علمي کادر غړي لري.

## څانګې لرلید

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې هڅه کوي چې د هیواد په کچه د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د ټولنې او د کار بازار د اړتیاوو په پوره کولو کې ځانګړی مقام ترلاسه کړي.

## څانګې رسالت

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې ټولیز رسالت د متعهدو، با تجربه او مسلکي استادانو، پرمختللې تکنالوژۍ او عصري میتودونو په کارولو سره د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د زده کړیالانو د پوهې او مهارتونو د کچې لوړول دي.

**تشکیلاتي جدول**

| نوم | تخلص | علمي رتبه | وظیفه |
|---|---|---|---|
| **رفیع الله** | سعید | پوهنیار | د څانګې آمر |
| **محمدتمیم** | مزمل | پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **نورجمال** | مبارکزی | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **حامد کرزی** | شینواری | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |
| **محمد یعقوب** | رحماني | نوماند پوهنیار | علمي کادر غړی |

## دوهم فصل

## عمومي اصول او مقررات

د لوړو زده کړو چاپېريال د علم، نظم، مسؤليت، متقابل درناوي او اکاډميکو ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وي. د لوگر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د انگليسي ژبې او ادبياتو څانگې ټول محصلين مکلف دي چې د نظام پاليسۍ سره سم د پوهنتون نافذه قوانين، د لوړو زده کړو وزارت مقررات او د پوهنتون داخلي لوايح په ښه شکل سره مراعات کړي. د دې فصل موخه د محصلينو لپاره د پوهنتون د اصولو، حقونو، مسؤليتونو او انضباطي مقرراتو روښانه کول دي.

---

### ۲.۱ د پوهنتون اصول او ارزښتونه

لوگر پوهنتون د علمي او اخلاقي معيارونو د ساتنې په موخه لاندې ارزښتونه خپل اساسي اصول گڼي:

**۱ .اسلامي ارزښتونو ته درناوی**

ټول محصلين، استادان او کارکوونکي د اسلامي شريعت، قوانينو او افغاني دودونو درناوی کوي.

**۲ .اکاډميک صداقت(Academic Integrity)**

په تدريس، ازموينو، څېړنو او علمي ليکنو کې صداقت، امانتداري او رښتينولي د هر محصل اساسي مسؤليت دی.

**۳ .متقابل درناوی**

د استاد، محصل، اداري کارکوونکو او مراجعينو ترمنځ متقابل احترام د پوهنتون له مهمو ارزښتونو څخه دی.

**۴ .عدالت او مساوات**

ټول محصلين له هر ډول تبعيض پرته د مساوي زده کړو او علمي فرصتونو حق لري.

**۵ .مسؤليت منل**

هر محصل د خپلو کړنو، زده کړو او علمي پرمختگ مسؤليت په خپله غاړه لري.

**۶ .د قانون حاکميت**

ټول محصلین د نظام د پالیسۍ سره سم د پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت د نافذو مقرراتو تابع دي.

### ۷. د چاپېریال ساتنه

د پوهنتون د ودانیو، شنو ساحو، کتابتون، لابراتوارونو او نورو عامه شتمنیو ساتنه د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

## ۲.۲ د محصلینو حقوق

هر محصل د پوهنتون د مقرراتو په چوکاټ کې لاندې حقوق لري:

- د معیاري او باکیفیته لوړو زده کړو حق.
- د علمي، فرهنګي او څېړنیزو فعالیتونو د ترسره کولو حق.
- له کتابتون، لابراتوار، انټرنېټ او نورو علمي امکاناتو څخه د استفادې حق.
- له استادانو څخه د علمي لارښوونې او مشورې ترلاسه کولو حق.
- د ارزونې د شفاف او عادلانه سیستم حق.
- د خپلو علمي ستونزو د حل لپاره د اړوندو مسؤلینو سره د اړیکې حق.
- د پوهنتون په علمي، فرهنګي او ورزشي فعالیتونو کې د ګډون حق.
- د شکایت ثبتولو او قانوني تعقیب حق.
- له هر ډول تبعیض، سپکاوي او ناعادلانه چلند څخه د خوندیتوب حق.

---

## ۲.۳ د محصلینو مسؤلیتونه

هر محصل مکلف دی چې:

- د نظام له پالیسۍ سره سم د پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت ټول نافذ قوانین رعایت کړي.
- د استادانو او اداري کارکوونکو درناوی وکړي.
- په منظمه توګه ټولګیو ته حاضر شي.
- ټاکل شوې کورنۍ دندې، پروژې او سیمینارونه پر وخت ترسره کړي.
- په ازموینو کې د هر ډول درغلۍ څخه ډډه وکړي.
- د پوهنتون عامه شتمنۍ وساتي.

- د کتابتون او لابراتوار اصول مراعات کړي.
- د ټولګي نظم وساتي.
- د محصلانو او استادانو حقوقو ته درناوی وکړي.
- د علمي امانتدارۍ اصول مراعات کړي.

---

### ۲.۴ د ټولګي اصول

د اغېزمن تدریس لپاره لاندې اصول باید مراعات شي:

- ټولګي ته پر وخت حاضرېدل.
- د استاد له اجازې پرته ټولګي ته ناوخته نه ننوتل.
- د درس پر مهال د موبایل تلیفون خاموش ساتل.
- د استاد د تدریس پر مهال بې ځایه خبرې نه کول.
- د نورو محصلینو د زده کړې خنډ نه جوړېدل.
- د ټولګي پاکوالی ساتل.
- د ټولګي وسایل په سمه توګه کارول.
- د استاد لارښوونې په دقت عملي کول.
- د علمي بحثونو پر مهال د متقابل احترام ساتل.
- د مناسب او منظم لباس اغوستل، د پوهنتون د نافذو اصولو مطابق.

---

### ۲.۵ د ازموینو مقررات

ازموینې د محصل د علمي لاسته راوړنو د ارزونې مهمه وسیله ده.

د ازموینو اساسي اصول:

- محصل باید د ازموینې ټاکلي وخت څخه مخکې د ازموینې تالار ته حاضر شي.
- د محصل پېژندپاڼه (Student ID) باید له ځان سره ولري.
- د ازموینې پر مهال هر ډول درغلي، نقل، د موبایل کارول او غیرمجازو وسایلو استعمال منع دی.
- د ازموینې د څارونکو لارښوونې باید عملي شي.
- د بل محصل په نوم ازموینه ورکول جدي سرغړونه ګڼل کېږي.

- د ازموينې د پايلو په اړه اعتراض د نافذو مقرراتو له مخې ترسره کېږي.
- د ازموينو اړوند پوره معلومات لپاره هر محصل مکلف دی تر څو د ازموينو لايحه په دقيق ډول مطالعه کړي.

---

### ۲.٦ انضباطي اصول

د پوهنتون د علمي او اخلاقي نظم د ساتنې لپاره ټول محصلين لاندې اصول مراعاتوي:

- د استادانو، محصلينو او کارکوونکو سپکاوی منع دی.
- فزيکي او لفظي شخړې منع دي.
- د پوهنتون د شتمنيو تخريب منع دی.
- جعل، درغلي او علمي غلا (Plagiarism) جدي سرغړونې ګڼل کېږي.
- د ازموينو د اصولو ماتول انضباطي اقدام لري.
- د ټولګي د نظم ګډوډول منع دي.
- د پوهنتون د رسمي اسنادو جعل يا ناسم استعمال منع دی.
- د پوهنتون د نافذو لوايحو خلاف هر ډول عمل د انضباطي کميټې له خوا ارزول کېږي.
- د سرغړونې د نوعيت له مخې اخطار، د نمرو لغوه کېدل، له ازموينې محروميت يا نور قانوني اقدامات د نافذو مقرراتو له مخې تطبيقېدای شي.

---

### د فصل لنډيز

د پوهنتون د اصولو او مقرراتو مراعات د سالم، منظم او اغېزمن اکاډميک چاپېريال د رامنځته کولو بنسټ دی. هر محصل بايد خپل حقوق وپېژني، مسؤليتونه په بشپړ ډول ترسره کړي او د پوهنتون د علمي، اخلاقي او انضباطي اصولو درناوی وکړي. د دغو اصولو رعايت نه يوازې د محصل شخصي بريا تضمينوي، بلکې د پوهنتون د علمي اعتبار او ټولنيز حيثيت په پياوړتيا کې هم مهم رول لري.

# درېیم فصل
# د کریډیټ سیستم

په لوړو زده کړو کې د کریډیټ سیستم د تدریس او زده کړې یو اغېزمن اکاډمیک سیستم ګڼل کېږي. دا سیستم د محصل د زده کړې پر محور ولاړ دی او موخه یې دا ده چې محصلان د زده کړې په بهیر کې فعال ګډون، مسؤلیت منل او د مهارتونو وده ترلاسه کړي.
په دې فصل کې د کریډیټ سیستم مفهوم، مقررات، د ارزونې طریقه، د نمرو وېش او د ازموینو ډولونه په اړه معلومات وړاندې کېږي.

## ۳.۱ د کریډیټ سیستم پېژندنه

کریډیټ سیستم (Credit System) هغه اکاډمیک سیستم دی چې په هغه کې د هر مضمون لپاره د تدریس، عملي فعالیتونو، خپلواکې مطالعې او ارزونې له مخې ټاکلی کریډیټ یا علمي واحد په پام کې نیول کېږي.
په دې سیستم کې محصل د زده کړې اصلي محور ګڼل کېږي او د استاد رول د لارښود او اسانتیا برابرونکي په توګه تعریف شوی دی. محصلان نه یوازې په ټولګي کې، بلکې د کورنیو دندو، څېړنو، پریزنټېشنونو، سیمینارونو او خپلواکې مطالعې له لارې هم خپل علمي مهارتونه پیاوړي کوي.
د کریډیټ سیستم مهمې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

- د محصل‌محوره زده کړې ملاتړ.
- د تدریس او ارزونې معیاري کول.
- د علمي کیفیت لوړول.
- د خپلواکې مطالعې هڅول.
- د څېړنیزو او عملي مهارتونو پراختیا.
- د ملي او نړیوالو اکاډمیکو معیارونو سره همغږي.

### ۳.۲ د کریډیټ سیستم مقررات

د کریډیټ سیستم د اغېزمن پلي کېدو لپاره محصلان باید د کریډیټ سیستم لایحه په دقیقه توګه مطالعه کړي.

### ۳.۳ د ارزونې سیستم

ارزونه د تدریس یوه مهمه برخه ده چې د محصل د علمي پرمختګ، مهارتونو او زده کړو د کچې د معلومولو لپاره ترسره کېږي. د کریډیټ سیستم له مخې ارزونه یوازې وروستۍ ازموینې پورې محدوده نه ده، بلکې د سمستر په اوږدو کې د محصل ټول علمي فعالیتونه پکې شاملېږي.

د ارزونې مهمې برخې عبارت دي له:

- ټولګیوال ګډون(Class Participation)
- حاضري
- کورنۍ دندې(Assignments)
- سیمینارونه او پریزنټېشنونه
- منځنۍ ازموینه(Midterm Examination)
- وروستۍ ازموینه(Final Examination)

د ارزونې موخه یوازې د نمرو ورکول نه دي، بلکې د محصل د زده کړې کیفیت ښه کول، د کمزوریو پېژندل او د علمي پرمختګ لپاره لازمې لارښوونې وړاندې کول دي.

### ۳.۴ د نمرو وېش

د کریډیټ سیستم له مخې د هر مضمون نمرې د دوامداري ارزونې او وروستۍ ازموینې له نمرو څخه جوړېږي.

| د ارزونې برخه | نمرې |
|---|---|
| حاضري | ۱۰ |
| کورنۍ دندې او سیمینار یا پریزنټېشن | ۱۰ |
| منځنۍ ازموینه | ۲۰ |
| وروستۍ ازموینه | ٦۰ |
| **ټولې نمرې** | ۱۰۰ |

## ۳.۵ د ازموينو ډولونه

د محصلانو د علمي پرمختگ د ارزونې لپاره بېلابېل ډول ازموينې اخيستل کېږي، چې مهم يې عبارت دي له:

**۱ . دوامداره ارزونه(Continuous Assessment)**

دا ارزونه د سمستر په اوږدو کې د کورنيو دندو، کوييزونو، سيمينارونو، پريزنټېشنونو، ټولگيوال گډون او نورو علمي فعاليتونو له لارې ترسره کېږي.

**۲ . منځنۍ ازموينه(Midterm Examination)**

منځنۍ ازموينه د سمستر په منځ کې اخيستل کېږي او د تدريس شوې برخې د ارزونې لپاره کارول کېږي

**۳. وروستۍ ازموينه(Final Examination)**

وروستۍ ازموينه د سمستر په پای کې اخيستل کېږي او د مضمون د ټولو تدريس شويو موضوعاتو ارزونه پکې کېږي.

# ځلورم فصل

# د محصلانو خدمتونه او اسانتیاوې

لوګر پوهنتون د محصلانو د علمي، مسلکي او فکري وړتیاوو د لوړولو لپاره بېلابېل علمي خدمتونه او اسانتیاوې برابروي. دا خدمتونه د تدریس د کیفیت د ښه والي، د څېړنیزو مهارتونو د پراختیا او د محصلانو د عملي تجربو د پیاوړتیا په موخه وړاندې کېږي. محصلان باید له دغو اسانتیاوو څخه په سمه او مسؤلانه توګه ګټه واخلي او د پوهنتون اړوند مقررات مراعات کړي.

---

## ۴.۱ کتابتون

کتابتون د پوهنتون له مهمو علمي سرچینو څخه دی چې د محصلانو، استادانو او څېړونکو لپاره د مطالعې او څېړنې مناسب چاپېریال برابروي. د کتابتون موخه د تدریسي او څېړنیزو فعالیتونو ملاتړ او د مطالعې فرهنګ پیاوړتیا ده.
په کتابتون کې د انګلیسي ژبې او ادبیاتو، ژبپوهنې، ښوونې او روزنې، ادبیاتو، څېړنې، ګرامر، قاموسونو او نورو اړوندو برخو کتابونه او علمي سرچینې ساتل کېږي.

**د کتابتون خدمتونه**

- د چاپي کتابونو مطالعه.
- د کتابونو امانت اخیستل (د نافذو مقرراتو له مخې).
- د علمي مجلو او مراجعو کارول.
- د څېړنیزو سرچینو استفاده.
- د مطالعې لپاره ارام چاپېریال.

**د کتابتون اصول**

- چوپتیا مراعات کول.
- د کتابونو ساتنه.
- د کتابونو پر وخت بېرته سپارل.
- د کتابونو له زیانمنولو څخه ډډه کول.
- د کتابتون د مسؤلینو لارښوونو مراعات.

## ۴.۲ انټرنېټي خدمتونه

لوګر پوهنتون د تدریس، څېړنې او علمي اړیکو د پیاوړتیا لپاره د انټرنېټي خدمتونو د برابرولو هڅه کوي. دا خدمتونه د محصلانو او استادانو لپاره د علمي سرچینو، برېښنایي زده کړو او معلوماتو د ترلاسه کولو زمینه برابروي.

### د انټرنېټي خدمتونو مهمې ګټې

- د علمي معلوماتو لټون.
- د برېښنايي کتابتون کارول.
- د علمي مقالو ترلاسه کول.
- د انلاین زده کړو ملاتړ.
- له استادانو او پوهنتون سره برېښنايي اړیکې.
- د څېړنیزو معلوماتو راټولول.

محصلان باید انټرنېټ یوازې د علمي، څېړنیزو او تدریسي موخو لپاره وکاروي او د پوهنتون د معلوماتي ټکنالوژۍ پالیسۍ مراعات کړي.

محصلان کولی شي د انترنیټ په کارولو سره له بریښنایي کتابتون څخه ګټه واخلي.

### برېښنايي کتابتون

برېښنايي کتابتون د ډیجیټلي کتابونو، علمي مقالو، برېښنايي مجلو، څېړنیزو راپورونو او نورو علمي سرچینو ته د لاسرسي زمینه برابروي.

محصلان کولای شي د برېښنايي کتابتون له لارې د خپلو درسي او څېړنیزو اړتیاوو لپاره له بېلابېلو ډیجیټلي سرچینو څخه استفاده وکړي.

### د برېښنايي کتابتون ګټې

- معلوماتو ته چټک لاسرسی.
- د نړۍ له علمي سرچینو څخه استفاده.
- د څېړنیزو مهارتونو پیاوړتیا.
- د وخت او لګښت سپما.
- د خپلواکې مطالعې هڅونه.

### ۴.۳ علمي سفرونه

علمي سفرونه د زده کړې د عملي برخې یوه مهمه وسیله ده. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه د خپلو تدریسي موخو او امکاناتو په پام کې نیولو سره د علمي سفرونو، مطالعاتي لیدنو او فرهنګي پروګرامونو د تنظیم هڅه کوي.

د علمي سفرونو موخه دا ده چې محصلان خپلې نظري زده کړې په عملي چاپېریال کې تجربه کړي او له بېلابېلو علمي او فرهنګي بنسټونو سره بلدتیا پیدا کړي.

**د علمي سفرونو موخې**

- د عملي زده کړو پیاوړتیا.
- د مشاهدې او تحلیل مهارتونو وده.
- د علمي تجربو زیاتوالی.
- د ګډ کار او همکارۍ روحیه پیاوړې کول.
- له علمي او فرهنګي مرکزونو سره بلدتیا.

د علمي سفرونو پر مهال ټول محصلان د پوهنتون د نافذو مقرراتو، د سفر د لارښود او د اخلاقو اصولو مراعاتولو ته مکلف دي.

---

### ۴.۴ سیمینارونه او ورکشاپونه

سیمینارونه او ورکشاپونه د محصلانو د علمي، مسلکي او څېړنیزو وړتیاوو د لوړولو لپاره مهم اکاډمیک فعالیتونه دي. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه د خپلو امکاناتو او کلني پلان له مخې علمي سیمینارونه، روزنیز ورکشاپونه، کنفرانسونه او علمي غونډې تنظیموي.

**د سیمینارونو او ورکشاپونو موخې**

- د علمي معلوماتو تبادله.
- د څېړنیزو مهارتونو پیاوړتیا.
- د وینا او وړاندې کولو (Presentation) مهارتونو وده.
- د نویو تدریسي او څېړنیزو لارو چارو پېژندنه.
- د ګډو علمي فعالیتونو پراختیا.
- د محصلانو د مسلکي وړتیاوو لوړول.

له محصلانو څخه تمه کېږي چې په دغو علمي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي، د خپلو استادانو له لارښوونو سره سم علمي مقالې، پریزنټېشنونه او څېړنیز کارونه وړاندې کړي او د پوهنتون د علمي چاپېریال په پیاوړتیا کې اغېزناک رول ولوبوي.

---

## ۴.۵ د ژبې لابراتوار

د ژبې لابراتوار (Language Laboratory) د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د څانګې لپاره یو له مهمو علمي اسناتیاوو څخه شمیرل کیږي. یاده څانګه پوره هڅه کوي چې ژر تر ژره د ژبې لابراتوار هم په معیاري شکل سره د محصلانو د زده کړو د کیفیت لا ښه والي په موخه برابر او محصلانو ته د ګټې اخیستنې لپاره په واک کې ورکړي.

د ژبې لابراتوار په لاندې ډول تشریح کوو:

د ژبې لابراتوار (Language Laboratory) د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د څانګې محصلانو لپاره یو له مهمو علمي اسانتیاوو څخه دی، چې د محصلانو د ژبنیو مهارتونو د پیاوړتیا لپاره تکارول کیږي. په دې لابراتوار کې محصلان د عصري وسایلو او ټکنالوژۍ په مرسته د انګلیسي ژبې د اورېدلو، خبرو کولو، تلفظ، ویینا، مکالمې او اورېدیز درک Listening) (Comprehensionمهارتونه تمرینوي.

د ژبې لابراتوار موخه دا ده چې محصلانو ته داسې عملي چاپېریال برابر کړي، څو د ټولګي نظري زده کړې په عملي ډول تمرین کړي او خپلې ژبنۍ وړتیاوې لوړې کړي.

**د ژبې لابراتوار موخې**

- د اورېدلو (Listening) مهارت پیاوړتیا.
- د خبرو کولو (Speaking) مهارت وده.
- د تلفظ (Pronunciation) اصلاح.
- د مکالمې تمرین.
- د معیاري انګلیسي لهجې سره بلدتیا.
- د ژبې د زده کړې لپاره د ټکنالوژۍ اغېزمنه کارونه.

د ژبې لابراتوار د عامه علمي شتمنۍ په توګه ځانګړي اصول لري، چې ټول محصلان یې مراعاتولو ته مکلف دي.

## د لابراتوار مهم اصول

- محصل باید یوازې د ټاکلي مهالویش له مخې لابراتوار ته داخل شي .
- د لابراتوار وسایل باید په احتیاط او مسؤلانه توګه وکارول شي .
- د کمپیوټرونو، هیډفونونو او نورو تجهیزاتو تخریب یا ناسم استعمال منع دی .
- د لابراتوار د مسؤل او استاد لارښوونې باید په بشپړه توګه عملي شي .
- خوراکي توکي او څښاک لابراتوار ته نه وړل کېږي .
- د لابراتوار له وسایلو څخه یوازې د علمي موخو لپاره استفاده کېږي .
- د هر ډول تخنیکي ستونزې په صورت کې باید مسؤل ته خبر ورکړل شي .
- د لابراتوار پاکوالی او نظم د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

---

## د فصل لنډیز

د محصلانو لپاره د علمي خدمتونو او اسانتیاوو برابرول د پوهنتون له مهمو مسؤلیتونو څخه دي. د ژبې لابراتوار، کتابتون، برېښنایي کتابتون، انټرنېټي خدمتونه، علمي سفرونه او سیمینارونه هغه مهم فرصتونه دي چې د محصلانو د علمي ودې، څېړنیزو مهارتونو او مسلکي پرمختګ لپاره مناسب چاپېریال برابروي. د دغو خدمتونو اغېزمنه ګټه اخیستنه د محصلانو د علمي بریا او مسلکي ودې لپاره مهمه ونډه لري.

## پنځم فصل

## څېړنه او علمي ليکنه

څېړنه او علمي ليکنه د لوړو زده کړو له بنسټيزو فعاليتونو څخه ګڼل کېږي. د پوهنتون له محصلانو څخه تمه کېږي چې د خپلو زده کړو په بهير کې د علمي څېړنې له اصولو سره اشنا شي، د معلوماتو د راټولولو، تحليل او علمي ليکنې مهارتونه زده کړي او د علمي امانتدارۍ اصول مراعات کړي. د انګليسي ژبې او ادبياتو په څانګه کې څېړنيز فعاليتونه د محصلانو د فکري ودې، انتقادي تفکر، ستونزو د حل وړتيا او علمي شخصيت د پياوړتيا لپاره ځانګړی ارزښت لري.

د دې فصل موخه دا ده چې محصلانو ته د علمي څېړنې، مونوګراف ليکنې، د ماخذونو د کارونې او د علمي امانتدارۍ په اړه بنسټيز معلومات وړاندې کړي.

---

### ۵.۱ د علمي څېړنې پېژندنه

علمي څېړنه (Scientific Research) هغه منظم، هدفمند او علمي بهير دی چې د يوې ځانګړې موضوع د حقيقت موندلو، د ستونزې د حل، د نويو معلوماتو د توليد او يا د موجودو معلوماتو د ارزونې لپاره ترسره کېږي.

څېړنه د اټکل، شخصي نظر يا غيرمستندو معلوماتو پر ځای د علمي شواهدو، منطقي تحليل او باوري سرچينو پر بنسټ ولاړه وي.

### د علمي څېړنې موخې

- د علمي ستونزو پېژندل او حل کول.
- د نويو معلوماتو توليد.
- د علمي پوهې پراختيا.
- د انتقادي فکر پياوړتيا.
- د تحليل او استدلال وړتيا لوړول.

- د علمي ليکنې مهارتونو وده.

### د علمي څېړنې اساسي ځانګړتیاوې

- علمي او منطقي وي.
- د باوري سرچینو پر بنسټ ولاړه وي.
- بې پرې او له تعصب څخه پاکه وي.
- د شواهدو او اسنادو ملاتړ ولري.
- د علمي اخلاقو اصول پکې مراعات شوي وي.

### د علمي څېړنې مهم پړاوونه

۱. د موضوع ټاکل

۲. د ستونزې بیان

۳. د څېړنې موخې ټاکل

۴. د ادبیاتو بیاکتنه(Literature Review)

۵. د څېړنې میتود ټاکل

٦. د معلوماتو راټولول

۷. د معلوماتو تحلیل

۸. پایلې او سپارښتنې

۹. د ماخذونو ترتیب

---

### ۵.۲ د مونوګراف لیکل

مونوګراف د فراغت د دورې یو مهم علمي اثر دی چې محصل یې د خپلې څانګې د علمي اصولو او د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو له مخې چمتو کوي. د مونوګراف موخه دا ده چې

محصل وکولای شي د یوې ټاکلې موضوع په اړه خپلواکه علمي څېړنه ترسره کړي او خپلې علمي وړتیاوې وښیي.

## د مونوگراف موخې

- د څېړنیزو مهارتونو پیاوړتیا.
- د علمي لیکنې تمرین.
- د معلوماتو د تحلیل وړتیا لوړول.
- د ستونزو د حل وړتیا وده.
- د خپلواک علمي کار تجربه ترلاسه کول.

## د مونوگراف عمومي جوړښت

- د سرپاڼې(Title Page)
- د تأیید پاڼه
- مننه(Acknowledgements)
- لنډیز(Abstract)
- د منځپانگې لړلیک(Table of Contents)
- د جدولونو او شکلونو لړلیک (که اړتیا وي)
- لومړی فصل (سریزه)
- د ادبیاتو بیاکتنه
- د څېړنې میتود
- د معلوماتو تحلیل
- پایلې
- سپارښتنې

- ماخذونه(References)
- ضمیمې(Appendices)

**د مونوګراف د لیکلو مهم اصول**

- موضوع باید د څانګې له تخصص سره اړخ ولري.
- د علمي سلاکار لارښوونې باید مراعات شي.
- ټول معلومات باید له باوري سرچینو څخه واخیستل شي.
- علمي او رسمي ژبه وکارول شي.
- د ماخذونو لیکلو معیاري سیستم تعقیب شي.
- د ادبي غلا څخه په کلکه ډډه وشي.

---

## ۵.۳ د ماخذونو لیکلو اصول

په علمي لیکنه کې د ماخذونو یادول د علمي امانتدارۍ یوه مهمه برخه ده. هر هغه نظر، تعریف، جدول، انځور یا معلومات چې د بل لیکوال له اثر څخه اخیستل کېږي، باید د منل شوي علمي سبک له مخې ورته ماخذ ورکړل شي.

**د ماخذ ورکولو اهمیت**

- د اصلي لیکوال حق ساتل.
- د علمي صداقت څرګندول.
- د معلوماتو د اعتبار زیاتول.
- د ادبي غلا مخنیوی.
- لوستونکي ته د اصلي سرچینې د موندلو اسانتیا.

**د ماخذونو ډولونه**

- کتابونه
- علمي مقالې
- علمي مجلې
- رسالې او مونوګرافونه
- کنفرانسونه
- رسمي راپورونه
- باوري انټرنېټي سرچینې

**د ماخذ لیکلو مشهور سبکونه**

- APA Style
- MLA Style
- Chicago Style
- Harvard Style

**یادونه :**باید هغه سبک وکارول شي چې د لوړو زده کړو وزارت، پوهنځي یا څانګې له خوا ټاکل شوی وي.

---

### ۵.۴ د علمي امانتدارۍ اصول

علمي امانتداري (Academic Integrity) د علمي ژوند له مهمو اخلاقي ارزښتونو څخه ده. علمي امانتداري دا معنا لري چې محصل خپل علمي کار په صداقت، ربښتینولۍ او مسؤلیت سره ترسره کړي او د نورو د علمي اثارو حقونه مراعات کړي.

### د علمي امانتدارۍ مهم اصول

- رښتینولي.
- امانتداري.
- مسؤلیت منل.
- عدالت.
- شفافیت.
- د څېړنیزو معلوماتو دقیق ثبت.
- د ماخذونو سم ذکر کول.

علمي امانتداري یوازې د مونوگراف لپاره نه، بلکې د کورنیو دندو، سیمینارونو، مقالو، څېړنو، ازموینو او ټولو علمي فعالیتونو لپاره اړینه ده.

---

### ۵.۵ د ادبي غلا (Plagiarism) مخنیوی

ادبي غلا (Plagiarism) هغه عمل دی چې یو شخص د بل لیکوال علمي اثر، نظر، متن، څېړنه، جدول، انځور یا معلومات د اصلي لیکوال له اجازې او د ماخذ له ذکر کولو پرته د خپل اثر په توگه وړاندې کړي.

ادبي غلا د علمي اخلاقو او اکاډمیکو اصولو جدي سرغړونه گڼل کېږي او د پوهنتون د نافذو مقرراتو له مخې انضباطي پایلې لري.

### د ادبي غلا ډولونه

- د متن بشپړه نقلول.
- د متن جزوي نقلول.
- د ماخذ له ذکر پرته د نظر کارول.
- د بل محصل د علمي کار سپارل.

- له انټرنیټ څخه د مطالبو بې له ماخذ څخه اخیستل.

## د ادبي غلا د مخنیوي لارې

- تل اصلي ماخذ ذکر کړئ.
- د نقل شوې خبرې لپاره د نقل نښې (Quotation Marks) وکاروئ.
- د نورو نظریات په خپلو الفاظو ولیکئ او بیا هم ماخذ ورکړئ.
- یوازې له باوري علمي سرچینو څخه استفاده وکړئ.
- د مونوگراف او علمي مقالو د سپارلو مخکې یې د ادبي غلا د کشف له سافټویرونو (که موجود وي) څخه وازموئ.
- د خپل علمي سلاکار لارښوونې مراعات کړئ.

## د ادبي غلا پایلې

ادبي غلا د پوهنتون د مقرراتو له مخې جدي سرغړونه ده او د سرغړونې د ډول او کچې له مخې لاندې اقدامات ترسره کېدای شي:

- شفاهي یا لیکلی اخطار.
- د علمي کار ردول.
- د مضمون ناکامي.
- د نظم کمېټې ته معرفي کول.

**یادونه:**

مونوگراف لیکنه د پوهنتون دورې په څلورم تولگي کې شروع کیږي چې د فراغت اخیستلو لپاره اړین او ضرور دی. که چیرته یو محصل څلور کلنه دوره بشپړه هم کړی او خپل مونوگراف یې د ټاکل شوې لایحې مطابق نهایي او مربوطه برخو ته سپارلی نه وي، د فراغت سند نشي ترلاسه کولی. ټول محصلان کولی شي د څېړنې او مونوگراف

لیکنې په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ترتیب شوی لارښود د اړتیا په صورت کې ترلاسه او ګټه واخلي.

---

### د فصل لنډیز

څېړنه او علمي لیکنه د هر محصل د علمي ودې بنسټ جوړوي. د څېړنې د اصولو زده کړه، د مونوګراف معیاري لیکنه، د ماخذونو سمه کارونه، د علمي امانتدارۍ مراعات او د ادبي غلا مخنیوی د یو بریالي او مسؤل محصل مهمې ځانګړنې دي. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د څانګې محصلان باید په خپلو ټولو علمي فعالیتونو کې د دغو اصولو پابندي وکړي، څو د علمي صداقت، کیفیت او مسلکي اخلاقو ساتنه یقیني شي.

# شپږم فصل

## له فراغت وروسته اړیکې

فراغت د زده کړو پای او د مسلکي ژوند د نوې مرحلې پیل ګڼل کېږي. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو له څانګې څخه فارغ شوي محصلان د خپلو زده کړو، مهارتونو او وړتیاوو پر بنسټ کولای شي په بېلابېلو علمي، ښوونیزو، اداري او ټولنیزو برخو کې د هېواد د پرمختګ لپاره خدمت وکړي.

د لوګر پوهنتون هڅه کوي چې له خپلو فارغانو سره دوامداره اړیکې وساتي، د هغوی علمي او مسلکي پرمختګ تعقیب کړي او د تجربو د شریکولو، د کارموندنې او لوړو زده کړو په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

---

### ٦.١ د فراغت شرایط

محصل هغه وخت د فراغت وړ ګڼل کېږي چې د لوړو زده کړو وزارت، لوګر پوهنتون او د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د څانګې ټول علمي او اداري شرایط یې په بریالیتوب سره بشپړ کړي وي.

### د فراغت اساسي شرایط

- د نصاب ټول مضمونونه په بریالیتوب سره بشپړ کړي.
- د نصاب ټول ټاکل شوي کریډیټونه ترلاسه کړي.
- د مونوګراف یا فراغتي څېړنیز اثر دفاع په بریالیتوب سره ترسره کړي.
- د پوهنتون او پوهنځي ټول علمي او اداري مکلفیتونه بشپړ کړي.
- د کتابتون او نورو اړوندو واحدونو تصفیه (Clearance) بشپړه کړي.
- د پوهنتون د نافذو مقرراتو مطابق د فراغت نور شرایط هم پوره کړي.

---

## ۶.۲ د فراغت اسناد

له فراغت وروسته فارغ ته د مقرراتو له مخې اړوند علمي اسناد ورکول کېږي. دغه اسناد د هغه د علمي وړتیا او د لېسانس دورې د بشپړولو رسمي ثبوت ګڼل کېږي.

### د فراغت مهم اسناد

- د فراغت سند(Diploma)
- د نمرو تفصیلي جدول(Transcript) په ملي او نړیواله ژبه
- د فراغت تصدیق‌لیک(Certificate)

فارغان باید د خپلو اسنادو د ترلاسه کولو لپاره د پوهنتون له اړوندو اداري واحدونو سره تصفیه ترسره کړي او د اسنادو د ترلاسه کولو رسمي کړنلارې تعقیب کړي.

---

## ۶.۳ د فارغانو ټولنه

د فارغانو ټولنه (Alumni Association) هغه علمي او ټولنیز بنسټ دی چې د پوهنتون او فارغانو ترمنځ د دوامدارو اړیکو د پیاوړتیا لپاره فعالیت کوي.

د دې ټولنې موخه دا ده چې فارغان له خپلې ځانګې او پوهنتون سره خپلې اړیکې وساتي، خپلې تجربې له اوسنیو محصلانو سره شریکې کړي او د پوهنتون په علمي او فرهنګي فعالیتونو کې ونډه واخلي.

### د فارغانو د ټولنې موخې

- د فارغانو ترمنځ د اړیکو ټینګول.
- له پوهنتون سره د دوامدارې همکارۍ رامنځته کول.
- د علمي او مسلکي تجربو شریکول.
- د محصلانو لپاره د لارښوونې او مشورې برابرول.
- د څېړنیزو او علمي پروګرامونو ملاتړ.

- د پوهنتون د پرمختګ په پروګرامونو کې همکاري.

له فارغانو څخه تمه کېږي چې د پوهنتون له علمي او فرهنګي فعالیتونو سره خپله همکاري جاري وساتي او د خپلې ځانګې د پرمختګ لپاره رغنده وړاندیزونه وړاندې کړي.

---

### ۶.۴ د کار فرصتونه

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د څانګې فارغان د خپلې تخصصي پوهې او ژبنیو مهارتونو پر بنسټ کولای شي په دولتي، خصوصي او نړیوالو ادارو کې د کار مناسب فرصتونه ترلاسه کړي.

### د کار مهمې ساحې

- د ښوونځیو ښوونکی.
- د پوهنتون استاد (د لوړو زده کړو له بشپړولو وروسته).
- ژباړن.(Translator)
- شفاهي ژباړن.(Interpreter)
- د انګلیسي ژبې روزونکی.
- د نصاب او درسي موادو چمتو کوونکی.
- د څېړنې مرستیال.
- د رسنیو او خپرندویو ادارو کارکوونکی.
- د دولتي ادارو د بهرنیو اړیکو کارکوونکی.
- د ملي او نړیوالو مؤسسو کارکوونکی.
- د پروژو همغږی کوونکی.
- د عامه اړیکو متخصص.

- د لیکوالۍ او اېډیټنګ په برخه کې فعالیت.

د کار موندنې لپاره د انګلیسي ژبې لوړ مهارت، کمپیوټري وړتیا، اغېزمنه اړیکه، مسلکي اخلاق او دوامداره زده کړه د بریالیتوب مهم عوامل ګڼل کېږي.

---

## ۶.۵ لوړې زده کړې

د لېسانس دورې له بشپړېدو وروسته فارغان کولای شي خپلې زده کړې په کورنیو او بهرنیو لوړو زده کړو مؤسسو کې د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې دوام ورکړي.

### د لوړو زده کړو ګټې

- د تخصصي پوهې پراختیا.
- د څېړنیزو مهارتونو لوړول.
- د علمي او مسلکي ودې فرصت.
- د تدریس او څېړنې په برخه کې د کار زمینه.
- د علمي مقام لوړول.
- د رهبرۍ او مدیریت وړتیاوو پیاوړتیا.

### د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د فارغانو لپاره د لوړو زده کړو مهمې څانګې

- د انګلیسي ژبې ښوونه(TESOL/ELT)
- د انګلیسي ادبیات(English Literature)
- ژبپوهنه(Linguistics)
- تطبیقي ژبپوهنه(Applied Linguistics)
- ژباړه او تفسیر(Translation Studies)
- د نصاب او تدریس میتودونه(Curriculum and Instruction)

- ښوونیز مدیریت(Educational Management)
- د لوړو زده کړو اداره(Higher Education Administration)

محصلانو ته سپارښتنه کېږي چې د فراغت له وخته مخکې د بورسونو، د لوړو زده کړو د شرایطو، د ژبې د نړیوالو ازموینو) لکه IELTS او (TOEFL او د څېړنیزو فرصتونو په اړه لازم معلومات ترلاسه کړي او د خپل مسلکي راتلونکي لپاره اوږدمهاله پلان جوړ کړي.

---

### د فصل لنډیز

فراغت د محصل د علمي سفر پای نه، بلکې د مسلکي او علمي ژوند د نوې مرحلې پیل دی. د فراغت د شرایطو بشپړول، د رسمي اسنادو ترلاسه کول، له پوهنتون سره د اړیکو ساتل، د مناسبو کاري فرصتونو لټول او د لوړو زده کړو دوام هغه مهم گامونه دي چې د انگلیسي ژبې او ادبیاتو د څانگې فارغانو ته د علمي، مسلکي او ټولنیز پرمختگ زمینه برابروي. لوگر پوهنتون خپلو فارغانو ته سپارښتنه کوي چې د ژوند تر پایه د زده کړې، څېړنې او مسلکي پرمختگ له بهیر سره خپله اړیکه وساتي او د هېواد د پرمختگ او سوکالۍ لپاره په صداقت او ژمنتیا خدمت وکړي.

## اووم فصل

## انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې نصاب

نصاب د هرې څانګې اساسي اکاډمیک سند دی چې د تدریس کېدونکو مضمونونو، کریډیټونو، سمسترونو او علمي موخو ترتیب پکې مشخص شوی وي. د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې نصاب د لوړو زده کړو وزارت له لوري تصویب شوی او د ملي او نړیوالو اکاډمیکو معیارونو سره سم ترتیب شوی دی.

د دې نصاب موخه دا ده چې محصلان په لاندې برخو کې لازمې پوهې او مهارتونه ترلاسه کړي:

- د انګلیسي ژبې څلور اساسي مهارتونه (اورېدل، خبرې کول، لوستل او لیکل).
- د انګلیسي ګرامر او ژبپوهنې (Linguistics) بنسټیز او پرمختللي مفاهیم.
- د انګلیسي ادبیاتو مطالعه او تحلیل.
- د ژباړې (Translation) مهارتونه.
- د تدریس میتودونه(Teaching Methodology)
- د څېړنې او علمي لیکنې اصول.
- د مسلکي ښوونکي او څېړونکي په توګه د علمي وړتیاوو لوړول.

پوهنتون لوگر

معاونیت علمی و امور محصلان

دیپارتمنت زبان و ادبیات انگلیسی

## نصاب تحصیلی هشت سمستر دور تحصیلی لیسانس دیپارتمنت زبان و ادبیات انگلیسی

| شماره | مضمون | کود مضمون | تعداد کریدت ها | سمستر ها | نام مضمون به انگلیسی | نوع مضمون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لوستنه | Ed.En.0121 | ۲ | اول | Reading | اساسي |
| ۲ | لیکوالي | Ed.En.0122 | ۳ | اول | Writing | اساسي |
| ۳ | گرامر | Ed.En.0123 | ۲ | اول | Grammar | اساسي |
| ۴ | اورېدل او خبرې کول | Ed.En.0124 | ۴ | اول | Listening & Speaking | اساسي |
| ۵ | عمومي ارواپوهنه | Ps. Gp 0106 | ۲ | اول | General Psychology | پوهنتون شمول |
| ٦ | کمپیوټر اساسات | Si. Is 0105 | ۲ | اول | Basics of Computer | پوهنتون شمول |
| ۷ | دری | Li. Da 0116 | ۲ | اول | Dari | اساسي |
| ۸ | اسلامي ثقافت (د اسلام اعتقادي نظام) | SL.IC.0171 | ۲ | اول | Islamic Culture (Belief System of Islam) | پوهنتون شمول |
| ۹ | عربی | | ۲ | اول | Arabic | اساسي |
| ۱۰ | اسلامي ثقافت (تلاوت او تجوید) | SL.IC.0172 | ۱ | اول | Islamic Culture (Recitation and Tajweed) | پوهنتون شمول |
| ۱۱ | لوستنه | Ed.En.0221 | ۲ | دویم | Reading | اساسي |
| ۱۲ | لیکوالي | Ed.En.0222 | ۳ | دویم | Writing | اساسي |
| ۱۳ | گرامر | Ed.En.0223 | ۲ | دویم | Grammar | اساسي |
| ۱۴ | اورېدل او خبرې کول | Ed.En.0224 | ۴ | دویم | Listening & Speaking | اساسي |
| ۱۵ | د مطالعې مهارتونه | Ed.En.0231 | ۲ | دویم | Study Skills | مسلکي |
| ۱٦ | ښوونیزه اروا‌پوهنه | Ps. Gp 02 10 | ۲ | دویم | Educational Psychology | اساسي |
| ۱۷ | پښتو | Li. Pa 0215 | ۲ | دویم | Pashto | پوهنتون شمول |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | SL.IC.0273 | ۲ | دویم | Islamic Culture (Worshipping System of Islam) | پوهنتون شمول |
| ۱۹ | اسلامي ثقافت (سیرت) | SL.IC.0274 | ۲ | دویم | Islamic Culture (Biography of Prophet (PBUH) | پوهنتون شمول |
| ۲۰ | لوستنه | Ed.En.0321 | ۳ | دریم | Reading | اساسي |
| ۲۱ | لیکوالي | Ed.En.0322 | ۳ | دریم | Writing | اساسي |
| ۲۲ | گرامر | Ed.En.0323 | ۳ | دریم | Grammar | مسلکي |
| ۲۳ | اورېدل او خبرې کول | Ed.En.0324 | ۳ | دریم | Listening & Speaking | اساسي |
| ۲۴ | ژبپوهنه | Ed.En.0332 | ۲ | دریم | Linguistics | مسلکي |
| ۲۵ | د ښوونې او روزنې اساسات | Pe.En 0302 | ۲ | دریم | Basics of Education | مسلکي |
| ۲۶ | د افغانستان معاصر تاریخ | Ss.Hi 0303 | ۲ | دریم | Contemporary History of Afghanistan | پوهنتون شمول |
| ۲۷ | اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام) | SL.IC.0375 | ۲ | دریم | Islamic Culture (Ethical System of Islam) | پوهنتون شمول |
| ۲۸ | اسلامي ثقافت (د اسلام ټولنیز نظام) | SL.IC.0376 | ۲ | دریم | Islamic Culture (Social System of Islam) | پوهنتون شمول |
| ۲۹ | لوستنه | Ed.En.0421 | ۳ | څلورم | Reading | اساسي |
| ۳۰ | لیکوالي | Ed.En.0422 | ۳ | څلورم | Writing | اساسي |
| ۳۱ | گرامر | Ed.En.0423 | ۳ | څلورم | Grammar | مسلکي |
| ۳۲ | اورېدل او خبرې کول | Ed.En.0424 | ۴ | څلورم | Listening & Speaking | اساسي |
| ۳۳ | غږپېژندنه | Ed.En.0425 | ۲ | څلورم | Phonetics | مسلکي |
| ۳۴ | د ادبیاتو عناصر | Ed.En.0427 | ۲ | څلورم | Elements of literature | مسلکي |
| ۳۵ | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | SL.IC.0377 | ۲ | څلورم | Islamic Culture (Ideological Studies) | پوهنتون شمول |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پوهنتون شمول | Islamic Culture (Religions and Sects) | څلورم | ۲ | SL.IC.0378 | اسلامي ثقافت (اديان او مذاهب) | ۳۶ |
| مسلكي | Critical Reading | پنځم | 2 | Ed.En.0521 | انتقادي لوستنه | ۳۷ |
| مسلكي | Writing | پنځم | 3 | Ed.En.0522 | ليكوالي | ۳۸ |
| مسلكي | British Literature | پنځم | 2 | Ed.En.0527 | برتانوي ادبيات | ۳۹ |
| مسلكي | Listening & Speaking | پنځم | 2 | Ed.En.0524 | اورېدل او خبرې كول | ۴۰ |
| مسلكي | Phonology | پنځم | 2 | Ed.En.0525 | غږپوهنه | ۴۱ |
| مسلكي | Educational Assessment | پنځم | 2 | Ed.En.0534 | ښوونيزه ارزونه | ۴۲ |
| مسلكي | English Teaching Methods | پنځم | 2 | Ed.En.0526 | انګلېسي تدريس ميتودلوژي | ۴۳ |
| پوهنتون شمول | Environment | پنځم | 2 | Ns.En.0505 | محيط زيست | ۴۴ |
| پوهنتون شمول | Islamic Culture (Political System of Islam) | پنځم | 2 | SL.IC.0579 | اسلامي ثقافت (د اسلام سياسي نظام) | ۴۵ |
| پوهنتون شمول | Islamic Culture (Administrative System of Islam) | پنځم | 2 | SL.IC.0580 | اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام) | ۴۶ |
| مسلكي | Critical Reading | شپږم | ۲ | Ed.En.0621 | انتقادي لوستنه | ۴۷ |
| مسلكي | Writing | شپږم | ۳ | Ed.En.0622 | ليكوالي | ۴۸ |
| مسلكي | Listening & Speaking | شپږم | ۲ | Ed.En.0624 | لوستل او خبرې كول | ۴۹ |
| مسلكي | English Teaching Method | شپږم | ۲ | Ed.En.0626 | انګلېسي تدريس ميتودلوژي | ۵۰ |
| مسلكي | Learning Theories | شپږم | ۲ | Ed.En.0635 | د زده كړې تيوريانې | ۵۱ |
| مسلكي | American Literature | شپږم | ۲ | Ed.En.0627 | امريكايي ادبيات | ۵۲ |
| مسلكي | Morphology | شپږم | ۲ | Ed.En.0636 | ويیپوهنه | ۵۳ |
| مونوګراف/پروژه | Research | شپږم | ۲ | Ed.En.0628 | څېړنه | ۵۴ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| پوهنتون شمول | Islamic Culture (Economic System of Islam) | شپږم | 2 | SL.IC.0681 | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) | ۵۵ |
| اساسي | Listening & Speaking | اوم | 2 | Ed.En.0724 | اورېدل او خبرې کول | ۵۶ |
| مسلکي | English Teaching Methods | اوم | 2 | Ed.En.0726 | انګلېسي ژبې میتودلوژي | ۵۷ |
| مسلکي | Practicum | اوم | 3 | Ed.En.0737 | عملي روزنه | ۵۸ |
| مسلکي | Syntax | اوم | 2 | Ed.En.0729 | نحو | ۵۹ |
| مونوګراف/پروژه | Research | اوم | 2 | Ed.En.0728 | څېړنه | ۶۰ |
| مسلکي | Translation Skills | اوم | 3 | Ed.En.0730 | د ژباړې مهارتونه | ۶۱ |
| مسلکي | World Literature | اوم | 2 | Ed.En.0727 | د نړۍ ادبیات | ۶۲ |
| پوهنتون شمول | Islamic Culture (Quran and Contemporary Science) | اوم | 1 | SL.IC.0782 | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) | ۶۳ |
| مسلکي | Listening & Speaking | اتم | 2 | Ed.En.0824 | اورېدل او خبرې کول | ۶۴ |
| مسلکي | English Teaching Methods | اتم | 3 | Ed.En.0826 | انګلېسي تدریس میتودلوژي | ۶۵ |
| مسلکي | Syntax | اتم | 2 | Ed.En.0829 | نحو | ۶۶ |
| مسلکي | Translation Skills | اتم | 3 | Ed.En.0830 | د ژباړې مهارتونه | ۶۷ |
| مسلکي | Literary Criticism | اتم | 2 | Ed.En.0827 | ادبي کره کتنه | ۶۸ |
| پوهنتون شمول | Islamic Civilization | اتم | 1 | SL.IC.0883 | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | ۶۹ |
| مونوګراف/پروژه | Monograph | اتم | 5 | Ed.En.0838 | مونوګراف | ۷۰ |
| مسلکي | Leadership in Education | اتم | 2 | Ed.En.0839 | ښوونیز مدیریت | ۷۱ |